# اروپايي سره سپړۍ

ټيليفون: 977-758-0799 برېښناليك:javid.hamidzada@rootsofpeace.org







**بالغه سره اروپايي سپړۍ (پاسنی تصوير) او د پاڼی تخريب (لاندې تصوير)**

## د سپړۍ تشريح

اروپايي سره سپړۍ (علمي نوم يي **panonychus ulmi**) پېټول ژمي کې دهګيو په څير د غوټيو په بيخ کې ځاي نيسي او په وړو څانګو، د ونو پېټپونو او د پوستکي په درزنو او چاودونو کې سپورونه جوړي.هګـي سور رنګ لري چې د مرکز څخه يي سلنډر ډوله ډنډر راپورته کيږي. د هګۍ څخه نوې راوتلي پړسيدلي سپړي شين رنګ لري خو د تغذيې څخه وروسته يي رنګ سور کيږي. دا سپړۍ په خپله شا د وېښتانو په بيخ کې سپينټکي لري. دا سپړۍ په کال کې د ۱۰-۵ پوري نسلونه توليدوي.

## تخريب

سرې اروپايي سپړۍ د پاڼو د بې رنګـه کيدو سبب کيږي. اوږدمهاله تغذيه د دې سبب کيږي چې پاڼه سپيره، او ژيړبخونته او په څوکه او څنډو کې سوځي. د بادام هغه ونې چې د اوبو يا نورو فکټورونو له کبله تر فشار لاندې نه وي راغلي کولاي شي چې د ډير شمير(تر ۵۰پوري) سپړۍ پرته له دې چې پاڼه وغورزي، وزغمي. په هرصورت دا شمير د ونې وده ورو کوي يا يې پېټپه دروي. که چيرې نيلګـي ترفشار لاندې راغلي وي، د سپړيو لوړه سويه کولاي شي چې د پاڼو د تويېدو سبب شي. په لږه اندازه سپړۍ ګټورې واقع کيداي شي، ځکه دا د نورو يرغلګـرو سپړيو يا حشراتو لپاره لومړني خواړه جوړوي. په هرصورت په بوزغليو کې بايد د سپړيو د نفوس ډيريدو ته اجازه ورنه کړي، ځکه چې د حشراتو ډيريدل د نيالګـيو وده کمزورې کوي.

## کنټرول

**دوديز کنترول:** ډيري وختونه ستونځه د حشراتو ضد درمل نګټې اخستلو څخه (هم په بوزغلي او هم پټـاوڼيو کروندو کې) منځ ته راځي. د حشراتو ضد ډيري درملونه چې د نورو حشراتو د کټرول لپاره په کار وړل کيږي، طبيعي حشره خوړونکي له منځه وړي او سپړيو ته اجازهورکوي چې ډيرې شي. په ځانګړي توګـه په هغو بوزغليو کې چې د مالوچو کروندو ته نږدې وي ډيري وختونه په کې د سپړيو ستونځه ليدل کيږي ځکه چې د مالوچو په کرونده کې د ډيرو درملو نګه اخستل حشره خوړونکي وژني او د سپړيو د شمير د ډيريدو سبب کيږي.

**زارعتي کيمياوي مواد*.** که چيري د سپړيو يرغل ځواکمن وي، نو کيداي شي چې د کيماوي موادو څخه ګټې اخستو ته اړتيا پيدا شي.

| | | |
|---|---|---|
| رقيق تيل | Amt / ha (153 L / h H20) | |
| Omni Supreme او نور | ۹-۶ليټره | |
| د اغيزې ډول: د تماس په واسطه وژل او محدودولو اغيزې. | | |
| **احتياط:** د ونو د مسموم کيدو څخه د ونود ښه اوبه کولو په واسطه مخنيوی وکړئ تيل يواځې په تماس سره کار کوي، ځکه خو ونې بايد په تيلو باندې ښې لندې شي. | | |
| ABAMECTIN* (ابامکتين) | | |
| (Agri-Mek) 0.15 EC | 0.12–0.24ليټره | |
| **احتياط:** کيداي شي چې د تيلو سره يوځای شي د ودې پر موسم کې د دوه ځله څخه يي ډير مه تطبيقوی او د هرځل درملني ترمنځ ۲۱ ورځې وخت ورکړئ. د هر هکتار لپاره د ۰.۲۴ ليټرو څخه ډير په هر وار کې مه کاروئ. | | |
| PROPARGITE | | |
| (Omite) 6EC | 0.574–0.766ليټره | |
| (Omite) 30WP | 0.3671 – 1.4685 کيلوګرامه | |
| **احتياط:** په يو موسم کې يي د دوه ځلي څخه يي ډير مه تطبيقوئ د تيلو د تطبيق څخه يي لږترلږه ۴۰ ورځې مخکي او ۳۰ ورځې مخکي مه تطبيقوئ. | | |

*په ياد ولرئ چې هرکله د توليدونکو کمپنيو لارښوونې ولولئ او عمل پرې وکړئ.

د جان ډرايور، کورکي لوين او مارك په واسطه چمتو شوی، د ۱۳۸۷ کب مياشت

دا خپرونه د اروپايي اتحاديې، د نړوالې د پرمختيا پروګـرام، د بادامو د صنعت د پرمختيا د پروژې په مالي مرسته، د سولې بنسټ د مؤسسې د ASIE/2007/135-504 قرار داد لاندې چمتو شوې. کابل ټيليفون 794677212 (0) 93+، zach@rootsofpeace.org

ددې خپرونې د محتوې مسؤليت په بشپړه توګـه د کاليفورنيا د ډيوس پوهنتون په غاړه دی او په هيڅ صورت سره د اروپايي اتحاديې د نظر څرګـندويه نه ده.

د خپريدو حق © UC Regents Davis campus، 2009 ميلادي ټول حقوق خوندي دي.

د ډيرو معلوماتو لپاره د: www.rootsofpeace.org, http://ec.europa.eu/europeaid/index_en.htm, www.ip.ucdavis.edu مراجعه وشي